بسم الله الرحمن الرحيم

# ځانګړنې:


| | |
|---|---|
| د رسالې نوم : | د مسواک ګټې |
| ټولوونکې : | محمد سعد شاهد نعماني |
| ژباړه : | احمد شاه پاڅون |
| خپروونکې : | دارالافتاح مدرسه عربیه هلمند |
| چاپ چاري : | |
| تیراژ : | ۱۰۰۰ |

## د ليکوال سريزه

په اسلام کې پاکي او صفايي يوازي دا نده چي د لمانځه ، تلاوت ، قران کريم او د کعبې طواف غوندي عبادتونو لپاره شرط ګڼل سوی ، بلکه د قران کريم او حديثو څخه څرګنديږي چي پاکوالی په خپل ځان کي د دين د يوې مهمي شُعبې تر څنګ په خپل ذات کي هم مهم دی.

د پاکوالي په برخه کي رسول اللهﷺ چي پر کومو ځانګړو شيانو ټينګار فرمايلی ، په هغوی کي يو هم مسواک دی . په طبعي توګه مسواک ډيري ګټې لري او د بې شمېره ناروغيو لپاره درمل

دی، هر شعوري انسان د مسواک د خور ورو ګټو څخه تر یوه سرحده خبردی.

ملا علي قاري رحمة الله علیه فرمايي چي ((مسواک اویا(۷۰) ګټې لري د هغو له ډلي يوه دا هم ده چي له برکته يې د مرګ په وخت کي کلیمه را یادیږي او برعکس په پرې ښودلو کي يې اویا(۷۰) زیانونه دي چي هغه کوچنی يې د مرګ په وخت کي د کلیمې هېریدل دي)).

(مرقاة المفاتیح ج ۲، ص ۳)

بحر الرائق کي راغلي چي مسواک ۳۶ ګټې لري هغه کوچنۍ يې د خولې د بد بويي لري کیدل او د مرګ په وخت کي د کلیمې په یادیدل دي.

تفسیر ابی السعود رحمة الله علیه کي لیکلي چي مسواک د سترګو دید زیاتوي او ورۍ کلکوي ،مسواک په زوړ والي کي ځنډ او پر پل صراط تیزي را په برخه کوي ، د خولې د پاوکوالي او د الله پاک جل جلاله د خوشحالۍ باعث ګرځي ، غاښونو ته ځلا ورکوي او بلغم بندوي ، د معدې فعالیت قوي کوي ، د خولې خیرني اوبه او ژړوالی ورکوي ، د قران کریم لار یاني خولې ته پاکوالی ورکوي ، شیطان غُصه کوي ، نیکۍ ډیروي ، د ژبي فصاحت

زياتوي ، د خولې تريخوالی له منځه وړي ، د سر او غاښونو د درد لپاره ګټور او د خيټې د ستونزو حل ور پورې تړلی.

(ردالمختار ج ١ ، ص ٨٥)

مسواک د تل کاروني سره په رزق کې زياتوالی ، په مال کې پراخوالی ، د خولې پاکي ، د وريو کلک والی ، د ليد زياتوالی ، د سر د درد ارام ، بلغم بندېدل ، د معدې اصلاح کېدل ، د وجود تقويت ، په فصاحت او بلاغت کې زياتوالی ، په عقل ، پوهې او ياد کې ښه والی ،د زړه پاکوالی ، په نېکيو کې زياتوالی دی. ددې تر څنګ د فرشتو د خوشحالۍ او ملاقات سبب ګرځي .

مسواک پر پُل صراط د برېښنا په شان د تېرېدو ضمانت ، د حشر په ورځ په راسته لاس کې د عمل نامې د ورکړې ضمانت ، د مرګ په وخت کې د کليمې رايادوونکی ، د مرګ د سختۍ اسانوونکی ، د قبر د پراخوالي سبب او په لحد کې مينه ناک او درد من دی .

(مراقی الفلاح ص ٣٨)

له ديني اړخه د مسواک اصلي اهميت دا دی ، چې دا معمولي عمل د الله تعالیٰ جَلَّ جَلَالُهُ د رضا لامل ګرځي ،ځکه نو په دې برخه کې د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم د ارشاداتو څلوېښت ګلان په دې کوچنۍ

ګیډۍ کي را غونډ کړل سوي . الله تعالیﷻ ته دعا کوو چي داکوچنۍ ټولګه د اولس د خوښۍ وړ و ګرځوي او د خپل بشپړ رحمت ، کامل مغفرت او ټول رضایت سبب يې و ګرځوي.

وصلی الله و سلم علی النبی الکریم محمد و اله و صحبه اجمعین

په درنښت

محمد سعد شاهد نعماني

﴿۱﴾

## د مسواک حُکم ولې نازل سو ؟

په حدیث شریف کې راغلي چې د اسلام په لومړیو کې نبي کریمﷺ ته د هر لمانځه لپاره د اوداسه حُکم ورکړل سوی وو ، که څه هم هغهﷺ به مخکې هم اودس لاره ،خو کله چې د هر لمانځه لپاره اودس کول د نبي کریمﷺ لپاره ستونزمن سوه، نو الله تعالی دا حُکم منسوخ (رد ) کړ او هر لمانځه ته یې د مسواک وهلو امر وکړ .

(ابو داود شریف –ج ۱ ص ۶ باب السواک )

﴿۲﴾

## مسواک د ټولو انبیاوو سنت دی

له سیدنا ابو ایوب انصاريرضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ و فرمایل : څلور شیان د انبیاوو علیهم السلام له سنتو څخه دي .

۱ .سنتي کول ۲ .عطر لګول ۳ .مسواک وهل ۴ .نکاح کول

(ابن ابي شیبه ج ۱ ص ۱۷۰)

﴿۳﴾

## د الله تعالی د رضا سبب

ام المومنین عایشې صدیقې ﷺ څخه روایت دی چې رسول اللهﷺو فرمایل : مسواک د خولې د پاکوالي او د الله تعالی د رضا باعث ګرځي.

(ابن ابي شیبه ج ۱ ص ۱۲۹)

﴿۴﴾

## د فرضیت امکان

حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریمﷺ و فرمایل : مسواک وهئ . ځکه ددې سره خوله پاکیږي او د الله تعالی رضا مو په برخه کیږي .

جبرائیل علیه السلام تل ماته د مسواک وصیت کړی ، تر داسي حده و بېرېدم چي هسي نه پر ما او زما پر امت فرض کړل سي .

که چیري زما سره زما د امت اندېښنه نه وای ،نو ما به مسواک وهل پر دوی فرض کړي وای . په داسي حال کي چي زه خپله دومره زیات مسواک وهم چي زما د خولې لاندي پوست به ورسره ولاړ سي .

(ابن ماجه سنن الکبری ج ۱ ص ۳۶)

﴿۵﴾

## د نبي کريم ﷺ سره د خپل امت د تکليف انديښنه

له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي حضور اکرم ﷺ و فرمايل: که زما سره زما دامت د خوارۍ او تکليف انديښنه نه وای، نو مابه هغوی ته تر هر لمانځه وړاندي د مسواک وهلو حُکم کړی وای.

﴿۶﴾

## دامت په اړه د پيغمبر ﷺ فکر

د حضور اقدس ﷺ ارشاد مبارک دی: که چيري زما سره د خپل امت د تکليف فکر نه وای، نو ما به پر دوی مسواک وهل داسي فرض کړي وای لکه د لمانځه لپاره اودس.

﴿۷﴾

له حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چی رسول الله ﷺ و فرمايل: ما يو ځل په خوب کي وليدل چي مسواک وهم، په دې وخت کي دوه کسه راغلل چي يو غټ او بل کوچنی وو. ما په هغوی کي کوچني ته مسواک ورکړ. ماته وويل سوه،

چي مسواک غاښ کس ته ورکړه ، ځکه نو ما په دوی کي غاښ کس ته ورکړ .

(بخاري شريف جلد ۱ باب السواک)

﴿۸﴾

## د رسول اللهﷺ لخوا غاښ کس ته د مسواک ورکول

ام المومنين سيده عايشه صديقه رضي الله عنها فرمايي چي يو ځل رسول اللهﷺ مسواک واهه او له هغوی سره دوه کسه چي يو غاښ او بل کوچنی وو موجود وو . الله پاک جل جلاله هغهﷺ ته و حي را ولېږلې چي مسواک غاښ کس ته ډالۍ کړه .

(ابوداود شريف –ص ۶)

﴿۹﴾

## په وينه د مسواک حکم

له حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي ما يو ځل رسول اللهﷺ د مسواک وهلو په حالت کي وليدی چي کله هغهﷺ له مسواک وهلو فارغ سو ،نو د قوم يو ستر کس ته يې مسواک ورکړ او و يې فرمايل : ماته جبرايل عليه السلام حُکم وکړ چي مسواک غاښ کس ته ورکړه .

(سنن الکبری ص ۴۰)

﴿۱۰﴾

## له بیدېدو مخکې مسواک

له اُم المومنین حضرت عایشې صدیقې رضي الله عنها څخه روایت دی : نبي کریم ﷺ چې به کله د شپې له پلوه کور ته تشریف راوړ، له هر څه مخکې به یې مسواک وواهه .

(مستند احمد)

﴿۱۱﴾

## له ویښیدو وروسته مسواک وهل

حضرت عایشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي: رسوالله ﷺ چې به کله هم د شپې یا ورځې له مخې له خوبه را پورته سو ،نو له اوداسه وړاندې به یې مسواک واهه .
(ابوداود باب لمن قام من اللیل ص ۸)

﴿۱۲﴾

## له حاجت رفع کولو وروسته مسواک

حضرت عایشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي : د شپې به مې نبي کریم ﷺ ته د اوداسه او به او مسواک ایښودل ، کله چې به نبي کریم ﷺ را ویښ سو، نو تر حاجت رفع کولو وروسته به یې مسواک واهه .

(ابوداود ص۸)

﴿۱۳﴾

## هر ځل له ویښېدو وروسته مسواک وهل

حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چي : يو ځل ما له نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره يوه شپه تېره كړه ، ما وليدل چي كله نبي كريم صلى الله عليه وسلم د تهجد لمانځه لپاره را پورته سو، نو ما ورته د اوداسه اوبه وركوې . هغه صلى الله عليه وسلم لومړى مسواك وواهه او بيا يې دغه اية (ان فى خلق السموات والارض و اختلاف الليل والنهار لايت لاولى الالباب الذين يذكرون الله قياما .........ترپايه ) تلاوت كړ . وروسته يې اودس وكړ ، دوه ركعته نفل يې اداكړه . وروسته بستر ته ولاړى ، د څه ګړۍ لپاره بيده سو چي كله بيا را ويښ سو، نو بيا يې لومړى مسواك وواهه ، ذكر سوى ايات يې تلاوت كړ ، اودس يې وكړ دوه ركعته نفل لمونځ يې ادا كړ او بيده سو . په دې ډول څلور ځلي بيده او ويښ سو او هر ځل يې مسواك وواهه . په وروسته كي يې وتر لمونځ وكړ .

(ابو داود شريف باب لمن قام من الليل ص ۷)

﴿۱۴﴾

## تر هر دوه رکعته وروسته مسواک وهل

سیدنا عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چی نبي کريم صلی الله علیه وسلم به د تهجد لمونځ دوه دوه رکعته ادا کاوه اوتر هر دوه رکعتونو وروسته به يې مسواک واهه امام المنذري رحمة الله علیه ددې روايت تر نقل کولو وروسته ليکلي ، دا چي د نبي کريم صلی الله علیه وسلم د تهجد د لمانځه ولاړه ، رکوع او سجدې ډيري اوږدې وې ، ځکه نو هغه صلی الله علیه وسلم به د خورا پاک طبيعت له امله په دومره وخت کي يوځل بيا د مسواک اړتيا احساسوله .

(الترغيب والترهيب ج ۱، ص ۳۵)

﴿۱۵﴾

## د فرشتو قران اوريدل

سیدنا علي المرتضی رضي الله عنه فرمايي : کله چي ستاسو څخه کوم کس د شپې له خوا د لمانځه لپاره را پورته کيږي ،نو هغه ته ښايي چي مسواک ووهي، ځکه کله چي يو څوک مسواک ووهي ،اودس وکړي او پر لمانځه ودريږي ، نو د الله تعالی يوه فرشته د هغه شاته دريږي او قرآن کريم اوري .

فرشته د قرآن کریم د لذت او د مسواک د خوړوالي له امله لمونځ کوونکي ته دومره نژدې کیږي ، چي د هغه د خولې سره خوله لګوي . په دې وخت کي چي لمونځ کوونکی کوم ایت لولي، نو هغه د فرشتې نس ته ننوځي .

(ابن ابي شیبه ج ۱ ص ۵ )

﴿۱۶﴾

## د نورو د مسواک استعمالول

حضرت عایشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم مسواک تر وهلو وروسته ماته د پرې منځلو لپاره راکړ ، نو لومړی به مي خپله استعمال کړ، بیا به مي پرې منځی او د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کي به مي وړاندي کړ .

(ابوداود شریف ج ۱ ص ۶سنن الکبری ج ۱ ص ۳۹ )

﴿۱۷﴾

## مسواک له ځان سره ساتل

ابو سلمی رضي الله عنه فرمایي: ما زید بن خالد رضي الله عنه په مسجد کي ناست و لیدی چي مسواک یې په غوږ کي داسي ایښی وو. لکه : کاتب چي قلم ږدي .

(ابو داود شریف ج ۱ ص ۷ )

﴿۱۸﴾

## د صحابه کرامو عادت

د حضرت صالح بن کسان په ګډون د ټولو صحابه کرامو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین دا عادت وو ، چې هغوی به په بازار کې د ګرځېدو را ګرځېدو په وخت کې هم مسواک په خپلو غوږونو کې ایښې وو .

(ابن ابي شیبه ج ۱ ص ۱۶۹)

﴿۱۹﴾

## په غوږو کې د مسواک ایښودل

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې صحابه کرامو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین به په غوږونو کې مسواک ایښودی او د هر لمانځه په وخت کې به یې کاروی .

(بذل المجهود ج ۱ ص ۳)

﴿۲۰﴾

## په سفر کې د مسواک کارول

حضرت ابو خیر صباحي رحمة الله علیه فرمایي چې زه د یوه پلاوي سره په سفر تلم نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم موږ ته د پیلو (یو ډول ونه ) مسواک

د ډالۍ په توګه راکړ او ارشاد يې و فرمايه چي له دې نه مسواک وهئ

﴿٢١﴾

## کور ته له داخليدو وروسته مسواک وهل

له حضرت عايشې صديقې رضي الله عنها څخه و پوښتل سوه چي کله به نبي کريم صلى الله عليه وسلم کور ته داخل سو لومړی به يې څه کول ؟ ورته وويل سوه : مسواک به يې واهه .

(مسلم شريف ج ١ ص ١٧٨)

﴿٢٢﴾

## د مسواک وهلو هر وخت تکرار

د حضرت نبي کريم صلى الله عليه وسلم د مسواک د هر وخت تکرار او په خورا ټينګار سره د هغه عملي کول دمسواک د ستر فضيلت لوی دليل دی .

(مسلم شريف ، جلد ١ ، ص ١٢٨)

﴿۲۳﴾

## له کور څخه د وتلو په وخت کي مسواک وهل

له حضرت زید بن خالد الجیهني رضي الله عنه څخه روایت دی چي کله به حضور اکرم صلی الله علیه وسلم له کوره وتی ، نو مسواک به یې وواهه .

(الترغیب ، ج ۱ ، ص ۳۵۰)

﴿۲۴﴾

## د جماعت دریدو په وخت کي مسواک وهل

په یوه روایت کي راغلي لکه څنګه چي کاتب هر وخت قلم په خپل غوږ کي ساتي ، حضرت زید بن خالد رضي الله عنه به مسواک هر وخت په خپل غوږ کي ایښی وو. نو چي کله به هغه د لمانځه لپاره مسجد ته تلی هم به یې مسواک په غوږ کي وو . چي کله به جماعت دریدی، مسواک به یې وواهه او بیا به یې غوږ کي کښیښود .

(سنن الکبرا ، ج ۱ ، ص ۳۷)

﴿۲۵﴾

## د روژاتې لپاره مسواک

له حضرت عايشې صديقې رضي الله عنها څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم و فرمايل : د روژاتي له ښو عاداتو يو هم د مسواک استعمالول دي .

(ابن ماجه ، ص ۱۲۱، کنزالعمال ،ج۸، ص ۳۱۰)

﴿۲۶﴾

## ډير مسواک وهل

حضرت عامر بن ربيعه رضي الله عنه فرمايي : ما نبي کريم صلی الله عليه وسلم د روژې په حالت کي دومره ځله د مسواک وهلو په حالت کي و ليدی چي ما و نسو شمېرلای .

(ترمذی شريف ،ج ۱ ، باب السواک )

﴿۲۷﴾

د حضور اکرم صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی چي د جمعې په ورځ هر بالغ مسلمان ته ښايي چي غسل وکړي ، مسواک ووهي او خوشبويي ولګوي .

(مسلم شريف ، ج ۱،ص ۲۸۰)

﴿۲۸﴾

## غسل کول ، عطر لګول او مسواک وهل

حضرت ابن سباق رضي الله عنه فرمايي : يوځل د جمعې په ورځ نبي کريم صلى الله عليه وسلم اشاد و فرمايه، اې مسلمانانو ! الله تعالى جل جلاله دا ورځ ستاسو لپاره اختر ګرځولې . ځکه نو په دې ورځ غسل هم وکړئ ، که عطر درته وي ، و يې لګوئ او د جمعې په ورځ مسواک حتماً ووهئ.

(موطا امام محمد)

﴿۲۹﴾

## د ټولي اونۍ د ګنا بخښه

له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې پاک نبي صلى الله عليه وسلم و فرمايل : کوم کس چې د جمعې په ورځ غسل وکړ ، مسواک يې وواهه ، عطر يې و لګول ، غوره جامې يې وا غوستې او مسجد ته ولاړی ، د خلکو تر اړو يې پښې وا نه ړولې ، لمونځ يې ادا کړ او د امام تر راتګ وروسته چپ کښيناستی ، نو الله رب العزت به د هغه ټول ګناهونه چې د اونۍ په ترڅ کې يې کړي وي و ر وبخښي.

(شرح المعاني الاثارج ،ج۱،ص۱۸۵)

﴿۳۰﴾

## د قران کریم د تلاوت لپاره مسواک وهل

حضرت علي المرتضیؓ فرمايي: ای خلکو ! ستاسو خولې د قرآن کریم د تلاوت لاري دي ، ځکه نو هغه د مسواک په مرسته په ښه ډول پاکي کړئ.

﴿۳۱﴾

## په ثواب کي خورا زیاتوالی

حضرت حسان بن عطیهؓ څخه روایت دی چي رسول اللهﷺ و فرمایل :هغه لمونځ ته چي مسواک ووهل سي تر هغه لمانځه چي مسواک ورته ونه وهل سي ۷۰ ځله غوره دی .

(ابن ابی شیبه ،ج۱ ، ص ۱۷۰)

﴿۳۲﴾

## تر اویا رکعتونو زیات خوښ

له حضرت عایشېؓ څخه روایت دی چي نبي کریم صﷺ و فرمایل : هغه دوه رکعته لمونځ چي مسواک ورته ووهل سي ماته تر هغه اویا رکعتونو زیات محبوب دي چي مسواک ورته ونه وهل سي.

(سنن الکبری، ج ۱ ،ص ۳۸)

﴿۳۳﴾

## ۹۹ نهه نیوي چنده اجر او ثواب

له حضرت علی ، حضرت عبدالله بن عباس او حضرت عطا رضی الله عنهم اجمعین څخه روایت دی چي په مسواک وهلو کي لټې (غفلت) مه کوئ . دا د تل لپاره یو عادت و ګرځوئ ، په دې کي د الله رضا ده او د لمانځه ثواب نهه نیوي (۹۹) برابره زیاتوي.

(مراقی الفلاح ص ۳۸)

﴿۳۴﴾

## د فرشتو دعا

په یوه روایت کي راغلي کوم کس چي مسواک ووهي او د لمانځه لپاره له کوره ووځي ، نو فرشتې د هغه د بخښني دعا غواړي .

(مراقی الفلاح ،ص۳۸)

﴿۳۵﴾

## د مسواک پر ځای ګوته

له حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسو ل الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل : ګوته د مسواک پرځای دریږي (خو په هغه صورت کې چې مسواک نه وي )

(سنن الکبری ، ج ۱،ص ۴۱)

﴿۳۶﴾

## که غاښونه نه وي بیا هم مسواک

حضرت عایشې رضي الله عنها له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه و پوښتل ، که څوک غاښونه ونلري ، ایا هغه هم باید مسواک ووهي ؟ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل هغه به هم مسواک وهي . حضرت عایشې رضي الله عنها و پوښتل هغه څنګه مسواک کارولای سي؟ حضور صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ ، هغه دي په خپله ګوته مسواک ووهي .

(سنن الکبری ، ج ۱ ص ۴۱)

﴿۳۷﴾

## د مسواک نیت کول

حضرت انس بن مالک رضي الله عنه فرمایي : یوه انصاري له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه و پوښتل چې تاسو موږ ته د مسواک وهلو امر کړی ، نو تاسو دا هم و فرمایاست که کوم وخت مسواک موجود نه وي ، نو ایا د بل کوم شي په استعمال سره هم د مسواک اجر تر لاسه کېدای سي ؟

حضور اقدس صلی الله علیه وسلم ارشاد و فرمایه : ستا ګوته ستاسو مسواک دی ، که دې د مسواک په نیت خپله ګوته پر خپلو غاښونو تېره کړه ، نو له دې هم تاسو د مسواک ثواب لاسته راوړلای سی .

(سنن الکبری ج ۱ ،ص ۴۱)

﴿۳۸﴾

## مسواک د کوم شي وي ؟

له حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی چې د زیتون مسواک له ټولو ښه دی او د مبارکي وني دی . له دې سره خوله

پاکه او بد بویي یې لرې کیږي او نبي کریم ﷺ و فرمایل دا زما او تر ما مخکې د انبیا علیهم السلام مسواک دی.

(کنزالعمال ،ج٨، ص ٢٢١)

﴿٣٩﴾

## د مسواک اندازه

له حضرت عطا بن ابی رباح رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ و فرمایل : په پیل کې دې د مسواک اندازه یوه لوېشت وي خو وروسته په کمېدو کې کومه خبره نسته .

(سنن الکبری ،ج ١ص ٤٠)

﴿٤٠﴾

## د مسواک نیولو سنت طریقه

له حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه د مسواک د نیولو طریقه دا ډول روایت سوې چې مسواک دې په راسته لاس کې په داسې ډول و نیول سي چې بټه ګوته او کوچنۍ (خچۍ)ګوته دې تر مسواک کښته او نورې دې لوړې راسي .

﴿۴۱﴾

## د مسواک ګټې او ځانګړني

۱. د رب د خوشحالۍ زريعه
۲. د خولې پاکوالی
۳. له مرګ پرته د هري ناورغۍ علاج
۴. په نس کي را غونډې سوې اوبه ورکوي
۵. د سترګو ديد زياتوي
۶. ورۍ قوي کوي
۷. د بلغمو مخه نيسي
۸. فرشتې ورباندي خوشحالي
۹. د نبیﷺ د سنت پيروي ده
۱۰. د لمانځه ثواب زياتوي
۱۱. وجود روغ ساتي
۱۲. حافظه قوي کوي
۱۳. وېښته قوي کوي
۱۴. د وجود رنګ ښکلی کوي

۱۵. غريبي ورسره لري کيږي
۱۶. شيطاني وسوسې لري کوي
۱۷. د ژبې فصاحت (خلاصوالی) ورسره زياتيږي
۱۸. خواړه ورسره هضميږي
۱۹. مني ورسره زياتيږي
۲۰. زوړ والی لري ساتي
۲۱. ملا قوي کوي
۲۲. په قبر کې مينه دی
۲۳. قبر ورسره پراخيږي
۲۴. په عقل کې زياتوالی راځي
۲۵. له وجوده روح په اسانۍ وځي
۲۶. لوږه وژني
۲۷. څېره روښانه کوي
۲۸. د سر درد لري کوي
۲۹. بېکاره لنده بل له وجوده باسي
۳۰. د زامې د غاښونو درد لري کوي
۳۱. غاښونو ته ځلا ور کوي

۳۲. فرشتې سترې مسې کوي
۳۳. علم او فصاحت زیاتوي
۳۴. له برکته یې د روزي په لاسته راوړلو کې اسانې راځي
۳۵. د دماغ رګونه ارام ساتي
۳۶. زړه ورسره پاکیږي
۳۷. کله چې څوک له مسواک سره اودس وکړي او د لمانځه لپاره ځي ، فرشتې د هغه تر شاه رواني وي
۳۸. چې څوک له مسواک سره اودس وکړي او تر لمانځه وروسته له مسجد څخه وځي ، نو د عرش فرشتې د هغه د بخښنې دعا غواړي
۳۹. د مسواک وهونکي لپاره انبیا علیهم السلام هم استغفار غواړي
۴۰. شیطان ورڅخه لرې تښتي او خفه کیږي
۴۱. خواړه په ښه ډول هضمیږي
۴۲. د ډېر اولاد لامل

۴۳. د مسواک پابندي کوونکی به پر صراط پل د برېښنا په ډول تیریږي
۴۴. عمل نامه به په راسته لاس ورکړل سي
۴۵. د الله تعالی پر پیروۍ به قوت او همت ور نصیب سي
۴۶. مضره ګرمي له وجوده باسي
۴۷. په زیړون کي چټکوالی
۴۸. د حاجت په رفع کولو کي اساني
۴۹. د هغه کس ثواب هم په دې کي لیکل کیږي ، چاچي په دې ورځ مسواک نه وي وهلی
۵۰. د جنت دروازې ورته پرانستل کیږي
۵۱. فرشتې ددې اړوند اعلان کوي چي د انبیا علیهم السلام پیروي کوونکی او د هغوی پر طریقه چلېدونکی دی .
۵۲. د دوږخ دروازې د هغه پر وړاندي بندیږي
۵۳. د هغه د روح د اخستلو په وخت کي به د مرګ فرشته په داسي بڼه کي ورته راسي لکه انبیا علیهم السلام ته چي به راتله .

﴿۴۲﴾

## د ښځو لپاره مسواک

د مسواک په فضیلت کې نر او ښځه برابر شریک دي ، مګر پر مسواک د قدرت لرلو سربېره پابنده نده .ددې لپاره د صنوبر او بُطم (یو ډول بوټي )ژړا (د ونو سریښناکه اوبه )ژوول د مسواک پر ځای دریږي له دې سره غاښونه ټینګیږي .

(بحرالرایق،ج ۱،ص ۲۱)

﴿۴۳﴾

## په مسواک کې شفاده

له حضرت عایشې صدیقې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسوالله صلی الله علیه وسلم و فرمایل :په مسواک کې له مرګ پرته د هري ناروغۍ شِفا موجوده ده .

(کنزالعمال،ج۸ ،ص ۳۱۱)

په یوه روایت کې راغلي چې مسواک د جزام او ابرص غوندي مضرو ناروغیو غاړه پرې کوي او له مرګ پرته د ټولو ناروغیو شِفا ده

(ردالمختار ،ج ۱،ص۸۵)

حضرت شعبي رحمة الله عليه فرمايي چي مسواک د خولې د پاکوالي او د سترګو د ليد لپاره ګټور دی .

(ابن ابی شیبه ،ج ۱،ص ۱۷۰)

﴿۴۴﴾

## د مسواک وهلو ځو وختونه

محدثينو او فقهاوو د مسواک د کاروني يو شمېر وختونه هم په ګوته کړي . رد المختار کي راغلي چي په لاندي وختونو کي مسواک وهل مستحب دی ، د غاښونو د ژړوالي په وخت کي ، د خولې د بدبويي په وخت کي ، د خوب څخه د راپورته کېدو په وخت کي ، په يوه مجلس يا محفل کي د ګډون پرمهال او کورته د تلو په وخت کي .

(رد المختار ،ج ۱،ص ۸۴)

حضرت علامه عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه ليکي چي په دغه حالاتو کي د مسواک وهل سنت دي ، له لمانځه وړاندي ، د اوداسه پر مهال کي ، د قرآن کريم د تلاوت پرمهال ، د غاښونو د ژړوالي پرمهال ، د چُپ پاته کېدو يا بيده کېدو له امله په خوله کي د بدبويي د پيدا کيدو پرمهال ، د يو بوی لرونکي شي خوړل او د خوب څخه د راپورته کېدو پرمهال .

(لمحات التنقیح،ج ۲، ص ۲۵)

﴿۴۵﴾

## د مسواک اداب

- مسواک په پروتې مه وهئ، له دې سره تریخی غټیږي
- مسواک په ټوله موټ کې مه نیسئ، له دې سره بواسیر پیدا کیږي
- مسواک له کارونې وروسته پر یمنځئ ، کنه نو شیطان یې استعمالوي
- مسواک پر مځکه یا مېز پروت مه ایږدئ، بلکه و یې دروئ ، له پروتې څخه د لیونتوب بېره ده .
- مسواک دي له لویشتې څخه اوږد نه وي ، پر هغه زیاته خوا یې شیطان کښیني

(غایة الاوطار،ج۱،ص۵۳)

پای

*د دعا په هیله مو*